# د افغانستان اسلامي امارت
# د لــوړو زده کړو وزارت
# بغلان پوهنتون
# د څېړنو او علمي مجلې معاونيت

## د څېړنو او علمي مجلې معاونيت پېژندنه!

د څېړنو او علمي مجلې معاونيت په ۱۴۵۵ قمری کال، چې د ۱۴۰۲ هجری کال سره سمون خوري د افغانستان اسلامي امارت د لوړو زدکړو وزارت لخوا د بغلان پوهنتون په چوکاټ کې رامنځته شو. د دغه معاونيت تر جوړېدو مخکې د بغلان پوهنتون په کچه د علمي څېړنو او علمي مجلې آمريت د علمي چارو د معاونيت تر اثر لاندې کار کاوه. د څیړنو او علمي مجلې د معاونيت د جوړيدو او تصويب سره سم، د علمي څېړنو او علمي مجلې آمريتونه د څیړنو او علمي مجلې د معاونيت په چوکاټ کې یوځای شول. د اجرائيه مديريت، د علمي مجلې د عمومي مديريت، د علمي مجلې د خپرونو مديريت، د متن د سمون مديريت، د علمي څېړنو عمومي مديريت، د ټولنيزو علومو او د طبيعي علومو د څېړنيزو کارپوهانو اداري بستونه هم د دغه معاونيت په چوکاټ کې رامنځته شول.

د څېړنو او علمي مجلې د معاونيت مسؤليتونه د پوهنتون په علمي څېړنو او نشراتي چارو متمرکز دي. دا معاونيت د څېړنې او خپرونو په بيلابيلو څانګو کې؛ لکه: علمي مجله، د استادانو لخوا وړانديز شوي او ترفيعي موضوعات، سيمنارونه او علمي څیړنيز کنفرانسونه د بغلان پوهنتون په کچه د پوهې د توليد لپاره د څيړنې د فرهنګ د پياوړتيا او بنسټيز کولو له پاره پلان جوړوي او فعاليت کوي.

**لرليد(Vision)**

د بغلان پوهنتون د څیړنو او علمي مجلې معاونيت اسلامي ارزښتونو ته په پام، په ملي کچه د عملي پوهې د توليد له پاره د علمي خپرونو د فعاليتونو د کيفيت د پياوړتيا او د څېړنيز فرهنګ د پياوړتيا او بنسټيز کولو له لارې د وياړ مقام ترلاسه کول دي.

**ماموريت**

د څېړنې او علمي مجلې معاونيت دنده لري، چې د پوهنتون د مشرتابه او د لوړو زده کړو وزارت په ملاتړ د پوهنتون د علمي څېړنيز مرکز د تجهيز او معياري کولو لپاره د لازمو اسانتياوو د برابرولو په برخه کې کار وکړي او د افغانستان اسلامي امارت د لوړو زده کړو وزارت د پاليسيو له مخې د ټولنې د اړتياوو، د کار بازار او علمي معيارونو په پام کې نيولو سره د علمي څیړنيزو فعاليتونو په ښه شرايطو کې د علم د توليد لپاره شته امکانات په پام کې ونيسي.

**ارزښتونه**

- د اسلامي ارزښتونو او احکامو سره سم تقوا، ايمانداري او ژمنتيا؛
- رښتنی خدمت او وطن پالنه؛

- کلتور او علم؛
- امانت داري، د استادانو او محصلینو د علمي او څېړنیزو مهارتونو د ظرفیت لوړول او ښه کول؛
- خلاقیت، علمي او څېړنیز نوښت؛
- نوښت او د علمي نوښتونو ملاتړ کول؛
- قوانین او اصول؛
- د اصولو او مقرراتو په رڼا کې د انصاف او انعطاف د اصولو سره موافقت؛
- په علمي – څېړنیزو چارو کې د اسلامي او اکاډمیکو اخلاقو مراعات کول؛
- د ټیمي همکارۍ لپاره د چاپیریال چمتو کول او په ملي او نړیواله کچه د علمي همکارۍ او پوهنتونونو لپاره د تفاهم لاسلیک کول؛
- په فعالیتونو کې مسؤلیت، حساب ورکونه او روڼتیا؛

**موخې**

- د بغلان پوهنتون په کچه د څېړنې، تالیف او ژباړې د فرهنګ پیاوړتیا؛
- د علمي څېړنو د مرکز تجهیز، کیفیت او اعتبار ورکونه؛
- د استادانو او محصلینو د څیړنېزو مهارتونو پیاوړتیا او پراختیا؛
- د پوهې د تولید کلتور ته وده ورکول او د استادانو د علمي نوښتونو ملاتړ کول؛
- د څیړنو پر بنسټ د استادانو علمي فعالیتونه؛
- د څېړنپوهانو د ظرفیتونو د لوړولو لپاره د نوو علمي موندنو د ترلاسه کولو له پاره هڅې؛
- د پوهنتون د علمي – څیړنیزو مجلو الکترونیکي جوړول؛
- د پوهنتون د خیړنیزو فعالیتونو د معیاري کولو هڅه؛
- د څیړنېزو فعالیتونو د کمیت او کیفیت د زیاتوالي لپاره هڅې؛
- ټولنې ته د علمي – څیړنیزو فعالیتونو د لېږدولو لپاره د علمي سیمنارونو او کنفرانسونو ترسره کول؛

**د څېړنو او علمي مجلې معاونیت لیدلوری د علمي څېړنو د مرکزي کمېټې په / / ۱۴۴۵ نېټه غونډه کې ( ) ګڼه پروتوکول کې ثبت او د بغلان پوهنتون د علمي شورا په / / ۱۴۴۵ نېټه غونډه کې د رایو په یووالي تایید او په ( ) ګڼه پروتو کول کې خوندي شو.**

**په درنښت**

**پوهندوی امین الله فطرت**

**د بغلان پوهنتون د څېړنو او علمي مجلې معاون**